آصف بهاند ۲۰۱۷/۱۰/۰۹

# ته مې د جنگ کلي کې ورکه کړلې



که شين اسمان
که وريځ يا لمر
واوره باران وي
که گلی که گله گرکی وي هم
تا پسي گرځمه
زه تا لټوم
ته مې د جنگ کلي کې ورکه کړلې
کلي نه تور او سوی مخ ووتم
په نا مالوم لوري مې مخه کړله
بيا چي په هره سيمه وگرځيدم
اور او ايرې مخي ته راغلي
ته مې ونه موندې
تا پسي گرځمه
زه تا لټوم
ته مې د جنگ کلي کې ورکه کړلې

۲۰۱۴/۰۶/۱۴
هيدرسليف
ډنمارک


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينگه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکني د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له رااليرلو مخکي په ځير و لولـئ